# په سکاټلنډ کښې د خپلو پیسو د تنظیم په اړه معلومات ترلاسه کړي

د مالي زده کړو پروژه

د ۲۰۱۱ کال د اپریل میاشت

FLP - Pashto

scottish refugee council

OISC

HAPPY TO TRANSLATE

## زمونږ د مالي زده کړو پروژه

زمونږ وړیا معلوماتي غونډې، ورکشاپونه او کورسونه ستاسو لپاره دا فرصت او موقع برابروي تر څو وکولای شي په سکاټلنډ کې د خپلو پیسو څخه سمه ساتنه وکړي او په راتلونکي کې د پیسو یا بیلونه اړوند ستونزې په سمه توګه سمبال او تنظیم کړي، پدغه معلوماتي پانه کې د ورکشاپ موضوعاتو، هغه ګډونوال چه باید په نومړو غونډو کې ګډون وکړي او په نومړو غونډو کې د نوم لیکنې په اړه ټول معلومات بیان شوي دي. همداډول پدې پانه کې د هر ورکشاپ په اړه معلومات او د لا زیاتو مالي مرستو د ترلاسه کولو په اړه معلومات شامل دي.

## ورکشاپونه د څه په اړه دي؟

زمونږ په ورکشاپونو کې د لاندي موضوعاتو په اړه معلومات شامل دي :

- بانکداري او سپما
- بودجه جوړونه
- قرضه ترلاسه کول
- ټول ګټي بیلونه
- بیمه
- کار اشغال کول ;او
- د خپل تجارت/ سوداګرۍ پیل.

## څوک باید پدې ورکشاپونه کې ګډون وکړي؟

هرڅوک کولای شي پدې ورکشاپونو کې ګډون وکړي اما دغه ورکشاپونه د هغو لپاره چه د مهاجر موقف لري او یا هم په برتانیا کې د پاتي کیدو اجازه لري تر ټولو مناسب دي. ورکشاپونه په منظم ډول د ګلاسکو په مختلفو سیمو کې په لاره اچول کیږي.د سفر لګښت ورکول کیږي او که چیرې تاسو غوښتي وي د ماشوم د پاملرنې اسانتیاوې وراندي کیږي.

## څرنګه نور معلومات ترلاسه او په راتلونکي ورکشاپ کې نوم لیکنه وکړو؟

د راتلونکي ورکشاپ په اړه د لا زیاتو معلوماتو او د نوم لیکنې په اړه دي برښنالیک:

financialworkshops@scottishrefugeecouncil.org.uk او یا زمونږ ویب پانه ته ستانه شي.

http://www.scottishrefugeecouncil.org.uk/how_we_can_help/i_have_refugee_status/leave_to_remain_in_the_uk/financial_literacy_project

لاندي معلومات د هغه موضوعاتو په اړه دي چه په ورکشاپ کي بحث پري کيري. همداډول د پيسو د تنظيم او سمبالښت په اړه مهم او په زړه پوري معلوماتو غوره ټيکي بيانوي.

**بانکداري او سپما**

- د بانکي حساب ډير ډولونه موجود دي، او هر يو يې په خپل وار سره جلا جلا ځانګړتياوي او بني لري. د سکاټلنډ د کډوالو کونسل معلوماتي پاڼه **"څرنګه بايد يو بانکي حساب پرانيزو"** ته د لا زياتو معلوماتو لپاره ستانه شي : http://www.scottishrefugeecouncil.org.uk/assets/0000/0188/How_to_open_a_bank_account_June_2010.pdf
- د بانکي حسابونو بل بديل د **کريډيټ يونين** حسابونه دي. نوموړي حسابونه بانکي حسابونو ته ورته دي، برسره پر عادي مالي خدمتونو د سلامشورو خدمتونه هم وړاندی کوي.
- **معلوماتو ته لاس رسی ولري :**هرکله چي تاسو بانکي او يا هم د کريډيټ يونين حساب ترلاسه کړ، ډير مهمه ده چه ستاسو د بانکي حساب څخه د ويستونکو او يا هم زياتيدونکي پيسو په اړه معلومات ولري، ترڅو ستاسو پيسي خلاصي نشي او يا هم د بانک لخوا پر تاسو تر حده ډير لګښت رانشي.

**پور يا د قرضي اخيستل**

- د پور ترلاسه کولو لپاره ډير مختلف ځايونه او لاري موجودي دي. تاسو کولای شي په مختلفو لارو لکه قرضي، کريډيټ کارډ، کتلاګ، د پلورنځي د اونيزو پيسو ورکولو او تراعتبار ډير حواله کول(اورډرافټ) پور ترلاسه کړي. دا مرستي ځيني وخت د نقدو پيسو او ځينی وخت د توکو د لګښت د پري کولو په توګه راڅرګنديږي.
- د پورته ذکر شوو پورونو د ترلاسه کولو لګښت يو تر بله توپير لري، نو ډير اړينه ده چه په اړوندو معلومات سم پوهه شي.
- معمولآ تاسو بايد د دي پور د ترلاسه کولو لپاره سود ورکړي. چه د APR – **د کلنی اوسط بيه** په نامه ياديږي. عمومآ هرڅومره چه APR لوړ وي هغومره به د ترلاسه شوو پيسو مقدار لوړ وي.
- که چيري يو نيمګړي **کريډيټ ريټنګ** ولري شايد پور ترلاسه نشي کړاي.کريډيټ ريټنګ پور ورکونکي ته ستاسو د ورتياوو ارزوني ته وايی، لکه بانک ته بيرته د پور په ورکولو کښي پاتي راتلل.ستاسو د کريډيټ ريټنګ په معلومولو کي يو شمير فکتورونه لکه ستاسو د سابقه پتي ، د روزګار وضعيت، درامد او بيلونو د ادا کولو سابقه شامله ده.
- تاسو کولای شي د پور د اخيستلو لپاره خپله غوښتنه ثبت کړي.ځيني هغه ډول پورنه چه تاسو يی ترلاسه کولای شي لکه:
- **د برتانيا د سرحداتو د اداري د بشپړونی پور**

  د پور ورکولو دغه ډول د برتانيا د سرحداتو د اداري لخو نويو راغلو مهاجرينو ته د سود څخه پرته د پور کولو ډول دي. پدي ويب پاڼه نور معلومات ترلاسه کولای شي

  http://www.ukba.homeoffice.gov.uk/aboutus/workingwithus/workingwithasylum/integration/integrationloan/.

- **د بحران پور**

د بحران پور د تولنيز فنډ هغه مقدار پيسي دي چه په عاجلو او د نارورين په وخت کي د خپل کور د بيا ابادولو او په پښو دردولو لپاره ورڅخه کته اخيستل کيږي، .**تاسو بايد نومړي مقدار پيسي وروسته بيرته ورکړي، اما هيڅ ډول سود نلري.** پدې معنې چه تاسو يوازې هغه مقدار پيسې بايد ورکړی چه تاسو د پور په ډول ترلاسه کړې وي.

پدې اړه د غوښتنليک د ورکولو څخه بيا د تولو شرايطو په اړه د لازياتو معلوماتو لپاره لاندې ويب پاڼي ته لاړ شي
http://www.direct.gov.uk/en/MoneyTaxAndBenefits/BenefitsTaxCreditsAndOtherSupport/On_a_low_income/DG_10018856

**تول کتي بيلونه**

- که چيري تاسو د مهاجرت موقف ترلاسه کړ او يا هم په برتانيا کي د پاتي کيدولو اجازه درکړل شوه، تاسو بايد د برښنا او ګاز هغه لګښت چه د خپل، روښنايي او د اطاق د ګرمولو لپاره کارولي بايد بيلونه خپله تحويل کړي. دغه بيلونه کيداى شي ډير قيمته او ځيني وخت د کال په ترڅ کښي بيي تغير وکړي، په همدې دليل تاسو بايد د نومړو لګښتونو څخه خارنه وکړي چه د کاروني سره سم بيلونه راغلي دي .

- تاسو بايد يو ميټر ولري، کله چه تاسو نوي کور ته منتقل شوي نو د ميټر معلومات د خپل ځان سره يادداښت او د هغه په اړه د برق کمپنۍ ته راپور ورکړي. دغه کار به ستاسو سره مرسته وکړي چه د بيل په اصلي لګښت باندي پوه شي، د برق او ګاز د بيلونو په اړه د لا زيات معلومات پدې ويب پاڼه ترلاسه کولاى شي :
http://www.consumerfocus.org.uk/scotland/files/2010/11/Tenants-advice-leaflet2.pdf

- تاسو کولاى شي د تيلو د لګښت په اړه د څو لارو څخه بيلونه تحويل کړي، د بيلګي په توګه د پوسته خانه، بانک، او يا هم په مستقيم ډول چه تاسو د خپل بانک څخه د پيسو د ايستلو اجازه ورکړي بيلونه تحويل کولاى شي. دا ډير اړينه او مهمه ده چه تاسو د خپل کور د ميټر لګښت د ځان سره يادداښت کړي، که چيري تاسو داسي ونکړي شايد ډير ژر شکمن شي.

- د اداري د لګښت په اړه لا زيات معلومات د سکاټلنډ د کډوالو د کونسل په معلوماتي پاڼه کي ترلاسه کولاى شي **په سکاټلنډ کي د مهاجرينو لپاره د کور په اړه لاربنوني: عاجل لګښتونه** زمونږ په ويب پاڼه ترلاسه کولاى شي.
http://www.scottishrefugeecouncil.org.uk/assets/0000/0215/L8_-_fuel_poverty18__Nov_2009.pdf

**بيمه**

- د بيمي خدمتونه د مختلفو لارو څخه وړاندي کيږي، د بيلګي په توګه، د ژوند بيمه، خصوصي روغتيايي بيمه، د کورني توکو بيمه، د پيسو ورکولو بيمه او د موټر بيمه

.

- که چیري تاسو موټر لري، تاسو **باید** لږ ترلږه د دریمي ډلي بیمه ولري او نور ډولونه انتخابی دي
- ځیني وخت امکان لري ستاسو د کور ښتنتن کولای شي ستاسو لپاره په کم لګښت د کور د تکو بیمه ترلاسه او ورانديِ کړي، ستاسو د ژوند په مختلفو برخو کي ستاسو لپاره مهمه ده چه پوه شي کوم ډول بیمه د ځان او د کورني لپاره غوره کړي.
- تاسو کولای شي مستقیمآ د تیلفون او هم د ویب پاڼه له لارې د بیمي خدمتونه ترلاسه کړي. تاسو همداډول کولای شي د بانک، د عمده سوپر مارکیټ او د نورو هټیو له لارې د بیمي خدمتونه ترلاسه کړي. تاسو باید د بیمي لپاره غوره نرخ پیدا کړي، د بیمي دغه نرخونو د پرتله کولو لپاره کولای شي پدې http://www.gocompare.com ویب پاڼه معلومات ترلاسه کړي

**د کار اشغالول او یا ورتګ**

- کله چه تاسو کار پیل کړ هغه امتیازات چه تاسو یې ترلاسه کوي تغیر مومي. د کار مرکز او د پیسو په اړه د سلامشورو نوري اداري کولای شي" **د کار په اتکولو کښې ښه مرسته وکړي"**، ترڅو ستاسو سره مرسته وکړي چه تاسو په خپل کار کي د مالي نظره په کومه سویه کي یاشت.' او همداډول تاسو ته جوتو کړي چه تاسو د کومو امتیازاتو حق لري. او همداډول تولي ورځ درس ته تلل هم ستاسو په امتیازاتو اغزه لري. د خپلو امتیازاتو په اړه د لا زیاتو معلوماتو لپاره دې ویب پاڼه ته مراجعه وکړي [http://www.direct.gov.uk/en/Diol1/DoItOnline/DoItOnlineByCategory/DG_172666](http://www.direct.gov.uk/en/Diol1/DoItOnline/DoItOnlineByCategory/DG_172666)
- کله چه تاسو کار پیل کړ تاسو ته باید یو **رسید** درکړل شي کوم چه به تاسو ته معلوم کړي چه تاسو څومره روپي ګټلي دي او همدا ډول ستاسو د تحصیلي لګښتونه پکي بیان شوي دي. معمولآ تاسو باید **مالیه** او د **ملي بیمي لګښت** ورکړي؛ نوموړي لګښتونه ستاسو د کورني د هر غړي او د یوه څخه د ډیر دندو د درلودلو په اساس سنجول کیږی. .د خپلي ګرزول شوو لګښتونو او پیسو د تنظیم په اړه د بي بي سي په ویب پاڼه خپره شوي ویډیو وګوري [http://www.bbc.co.uk/raw/money/new_job/managing_while_you_work.shtml](http://www.bbc.co.uk/raw/money/new_job/managing_while_you_work.shtml)

**د خپلي سوداګری یا تجارت پیلول**

- که چیري تاسو غواړي چه خپل کاراو بار یا تجارت پیل کړي، نو داسي یو شمیر اداري او سازمانونه شته چه ستاسو سره پدې اړه وړیا سلامشوري او لارښوني وړاندي کولای شي:
  - د سوداګري لاره کولای شي تاسو د خپل تجارت د پرانیستلو او د هغه د دوام او بقا په اړه سلامشوري درکړي . د لازیاتو معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره دې ویب پاڼي ته لاړ شي.[http://www.bgateway.com](http://www.bgateway.com)
  - HMRC (د علیاحضرت د عایداتو او ګمرکاتو اداره) هم ستاسو سره د مالیي په راټولو کښي مرسته کولای شي نور معلومات د HMRC [www.hmrc.gov.uk](http://www.hmrc.gov.uk) څخه ترلاسه کړي

**د کوم ځاي څخه نوري مالي سلامشوري ترلاسه کولای شم؟**

که چیري د یادو شوو مهمو او یا هم مربوطه نورو موضوعاتو په اړه لا زیات معلومات غواړي نو مهرباني وکړي د سکاټلنډ د کډوالو د کونسل د استازي سره اړیکه ټنګه کړي. [Financialworkshops@scottishrefugeecouncil.org.uk](mailto:Financialworkshops@scottishrefugeecouncil.org.uk) او یا هم پدې ټیلفوني شمیره. 9799 248 0141 اړیکه ونیسی

وړیا. محرمانه او بې طرفه سلامشوري د GAIN ( د ګلاسکو د سلامشورو او معلوماتو د شبکي)څخه ترلاسه کولای شي. د خپلي نږدې اداري سره د اړیکو لپاره پدې ویب پاڼه[www.gain4u.org.uk](http://www.gain4u.org.uk) او یا هم پدې 1011 801 0808 اړیکه ټینګه کړي.